# په سهېلي پښتونخوا کښې د ماشومانو د نثري ادب تحقيقي جائزه

**A Study of the Childeren Literature (prose) in the Southern Pashtoon Khwa**

کفیل قربان*

**Abstract:**

Literature for children plays pivotal role in their lives hence developed nations focus to produce much literature for new generation. Plethora of films, dramas, and stories are produced in order to accelerate their mental growth. Although Pashtoon writers have also written many stories about children yet it needs much concentration. Whereas, in Southern Pashtoon Khwa, literature for children has not been paid any attention. Less number of the writers either compiled stories or translated from other languages. The authors of this paper strive to unfold assorted aspect of ths said literature and draw attention of the writers and quarters concerned regarding the significance of the cited literature.

**Key words**: Pashto, Children literature, Southern Pashtoon Khwa.

د سهېلي پښتونخوا د ماشومانو د ادب د نثري برخې ټول مواد چې سره را يو ځای کړو نو د ځينو نثري متلونو او کيسيو په څنګ کښې زياته برخه د کيسې ده، دغه د کيسې برخه بيا په درې ډولونو ليکوالانو وړاندې کړې ده، ځينې داسې کيسې دي چې ببخي لنډې او وړې دي، چې په يوه منټه کښې پای ته رسيږي، ځينې بيا درميانه کيسې دي چې په څلور پنځهٔ منټه کښې پای ته رسيږي ځينې يې بيا داسې کيسې دي د افسانې غونډې په پنځلس شل منټه کښې پای ته رسيږي، خو د ماشومانو دپاره چې تر ټولو غوره او د مزې کيسې هغه دي چې درميانه وي، که څهٔ هم د ماشومانو د ادب پوهان وايي چې اوږدې کيسې ماشومانو ته خوند ورکوي خو زما په خيال اوږدې کيسې کله کله په ماشومانو بوج شي يا د ماشومانو تر ذهني سطحې لوړې وي. ځکه موږ ويلای شو چې چې درميانه کيسې ماشومانو ته خوند ورکوي. د کيسې پوهان داسې ليکي:

"د ماشوم ادبيات ماشوم ته د ژوند په هر پړاؤ کښې مهم دي او د ماشوم د پرمختګ سبب کيږي، ماشوم نېك خويه عادت کوي، تخيل ته يې لويوالی ورکوي او په ژوند کښې يې د نوښت او ابتکار راز ور زده کوي، لنډې کيسې او داستانونه چې ماشومان لولي يا يې اوري د دوی په روحياتو او افکارو باندې ژور او هر اړخيز تاثير کوي، دوی د ټولنيز ژوند په ادابو او له يو بل سره په اړيکو پوهوي، همدا رنګه د ژوند په چارو کښې د دوی درك او

---

* M.Phil. Scholar, Department of Pashto, UOB, Quetta

فهم پیاوړی کوي. د ماشوم ادبیات له ماشوم سره د ژبې په زده کړه، د تازه کلیمو په یادولو او د لید په پراخوالي کښې هم مرسته کوي".(1)

دغسې د ماشومانو د کیسې خوښولو په اړه مو په تېرو بابونو کښې د یوې انټرویو په سبب معلومه شوې وه چې ماشومان اوږدې اوږدې کیسې خوښوي خو دلته په پورتنۍ حواله کښې دي چې د ماشومانو دپاره لنډې کیسې معنا لري، خو ما د دې دواړو رایو په نتیجه کښې له خپلو ماشومانو سره درې سره ډولونه کیسې واورولې او بیا مې پوښتنه ځینې وکړه چې کومه کیسه ډېره خوندوره وه، په ځواب کښې یې راته ویل چې هغه اوله کیسه سمه نۀ وه ډېر ژر ختمه شوه، وروستۍ کیسه هم ښۀ نۀ وه ډېر وخت یې واخیست او ډېره اوږده کیسه وه، په موږ بوج شوه دا دویمه کیسه ډېره ښۀ وه په هره حواله ښۀ وه.

په سهېلي پښتونخوا کښې د ماشومانو د ادب نثري کیسې تر منظومې کیسې ډېرې را وروسته لیکل شوې دي، شعري کیسې په زرګونه کاله زوړ تاریخ لري خو نثري کیسې د شلمې پېړۍ پیداوار دي. په سهېلي پښتونخوا کښې نثري کیسې هم د پښتو مجلې له لارې په کال 1953ء کښې میدان ته راغلې دي.

د پښتو مجلې اکثرا نثري کیسې له نورو ادبیاتو ترجمه شوې دي، په ماشومتوب کښې به موږ په ماجت کښې یو کتاب وایۀ چې نوم یې "مفید الطالبین" ؤ، دا کیسې اکثرا له هغۀ کتابه را ژباړل شوې دي، لکه د چغلۍ نتیجه، دا وېښ دي له چا نه زده کړ؟ د بوډۍ باز، غل او دهقان، ګندړه او سور لنډی، یتم هلك، زمری او پیشو او داسې نور.

د ماشومانو د منثور ادب نمونې د بېلا بېلو مجلو په پاڼو کښې هم خوندي دي، له هغو مجلو څخه یوه پالنه مجله ده چې له صحاف خپرندویې ټولنې خپرېدله په هغې کښې دا کیسه وګورئ:

"کلیوال او د هغۀ خر: یو کلیوال سړی ناست ؤ چې تر شا یې خپل خر هم ورته تړلی ؤ، چې تر دې منځ یې خرۀ دی دوې لغتې وواهۀ، کلیوال په غصه شو او سمدستي را ولاړ شو او هغه خر یې هم دوې لغتې وواهۀ او وروسته یې په خښم سره ورته وویل: ستا څۀ خیال دی چې زۀ تر تا کم یم".(2)

دغسې د ماشومانو د ادبیاتو په دغه سلسله کښې چې د مجلو له لارې خپارۀ شوي دي، یوه بله مجله لمبه ده چې د ماشومانو دپاره یې روغه برخه په مجله کښې ځای کړې ده. له لمبې مجلې څخه یوه نثري نمونه که څۀ هم په دغه مجله کښې کیسې هم شته خو هغه ډېرې اوږدې دي راوړل یې مقاله نوره اوږدوي، ځکه دا څو وړې وړې د ماشومانو د خندا کولو دپاره وګورئ:

"یو چا د یوۀ کس څخه پوښتنه وکړه چې نوم دي څۀ دی؟ هغه ځواب ورکړ: هیبت الله.

لومړي کس ورته وویل: رښتیا واې او که هسې ما وېروې؟.

بیږه: له یو چا نه یې وپوښتل څهٔ وخت راغلې؟
هغه وویل سبا.
و یې ویل: تراوسه خو لا سبا شوی نهٔ دی. هغهٔ وویل:
بیږه مې وه یوه ورځ مخکښې راغلم.
غویی: یو چا د یوهٔ ماشوم څخه وپوښت چې د پلار نوم دې څهٔ دی؟
هغه ورته وویل: غویی.
سړي ورته وویل: دا څهٔ وایې، بې ادبه.
ماشوم ورته وویل: پلار چې مې هر وخ وهي، ما ته وایي ګیلګیه! نو کېدای شي په خپله غویی وي". (3)

په مجلو کښې د دې وړاندې کړل شوو مجلو په څنګ کښې په نورو مجلو کښې هم د ماشومانو د ادب په اړه مواد شته دلته ټول راوړل مناسب نهٔ دي، البته د ځینې کتابونو چې د سهېلي پښتونخوا ماشومانو ته په کښې نثري نمونې موجودې دي، څو بېلګې وګورئ:

"زمری او چغال: یو زمری ؤ دی نو په ښکار پسې راووتی، راتلئ راتلئ پر یو چغال برابر شو، چغال یې ونیو، چغال خیال وکړ چې اوس دې نو خوري، چورت یې وواهۀ چې اوس دې لاوار دی خپل چم کوه. ابس و زمري ته یې وویل چې ته خو ما پر اسمان غوښتې، ته خدای پر مځکه راکړې، زمري ورته وویل: چې ولې خیر خو دی، تا نو زهٔ څهٔ کولم؟ چغال ورته وویل: چې زما پنځهٔ بچیان دي، زما او د ماینې سره په دعوه ده، دا وایي زما دي او زهٔ بیا وایم چې زما دي، نو خدای به کوي ته به کوې، دا زموږ د بچیانو وېش به راکوې؟. زمري په دا خپل زړهٔ کښې ری وواهۀ چې دا خو ډېره ښه خبره ده اوس خو یو چغال دی چې کور ته ورسره ولاړ شې، نو اووهٔ چغالان به په لاس درشي، نو به پوره په مړ شوې، آبس چغال د مخه زمری په پسې شو، نو راتلو راتلو پر یوه غاره پېښ شو، چغال و زمري ته وویل چې زموږ کور دا دی، ته دلې ودرېږه زهٔ به خپل بچیان درته را وباسم، کرار. چغال په غاره ځین ننوتی، لږ ساتکی وروسته یې له دا غارې څخه سترګې وربښکاره کړې، ورته ویې ویل: چې ستا یې نو په مخه ښه، موږ په خپل کور کښې سه جوړ شو". (4)

همدغسې کیسې ماشومانو ته ذهني استراحت وربخښي او هم هغوی ته داسې سبق ورښیي چې په ټولنه کښې سبا د بل چا په ګټه تمام شي او د انګرېزي ژبې لیکوال هم دغسې ویلي دي چې:

"especily story books are very important for them.because story books proviod children with a window to a new world. It give them the opportunity to learn new ideas and information without realing it. They are learing valuable life lesson through hearning an engaging,exciting story.stories also allows the children to experience different world, countries and especily

tradition. Story can be helpful for relaxation before bedtime like they allows the child to forget the stress and strains of the day and also develop a child's imagation by introducing new ideas into their mind and world". )5(

دغسې د سيال کاکړ يو بل کتاب د کوشنيانو ژبه هم د ماشومانو د ادب په اړه دی له هغهٔ څخه يوه نثري بېلګه وګورئ:

"پالېزوان: يو چي ؤ پالېزوان ؤ، دهٔ نو پالېز کرلی، بيزو راغله، ټيکی يې را واخيسته، په کونډور وکښېنسته، نهٔ کښېږي، بس، بيزو چي هلته په کونډړو کښېنسته، سپيان چي يې ور ايله کړو، بس... ول ... کش.

وزه: يوه چي وه وزه وه، يو انګڼ يو بګڼ ؤ، يو کوچوټی متېنګڼ. بس. غلي چي راغلئ انګڼ، بګڼ او کوچوټی متېنګړ يې ګړده وخوړو.

بس. ما چي شکرونه ور تېر کړو، بس. غلهٔ چي شکر کي ووهی، لېوه دوه ځايه شو.

کارګه: يو چي ؤ کارګه ؤ. بيزو چي راغله، بس... ول لړ مالګه خو راکړه، ول: ځه، ځه، ليار دي وهه، بس. کارګهٔ کوډی چي باران ونړوله ول: کارګهٔ ګوره مارګهٔ ګوره، کارګه په تبی تور ګوره. دا مالګه يې پېغور ګوره". (6)

د پروفېسر سيال کاکړ را ټولې کړې کيسې د نورو کيسو په نسبت ډېرې کمزورې او ډېرې وړې وړې دي، کله کله خو د چا د کيسې ګمان هم ورباندې نهٔ کيږي. يا دا کيسې د ډېرو وړو دوو يا درو کلنو ماشومانو دپاره دي. خو د هغو دپاره هم څهٔ سبق، نصيحت او زده کړه په کښې نهٔ معلوميږي. حالانکې د ماشومانو د ادب مقصد هم دغه دی چې:

"زما تجربه دا ده چي کيسه يا نکل چي څومره خوندور وړاندې شي هغومره د ماشوم پام واړوي... دقت او خوندوره ارائيه ماشومانو ته کيسه مهموي او په غور سره يې اوري، ماشومانو ته تر ټولو هغه کيسه ډېره جالبه وي چي خيالي موجودات يې په الوتو وي، سوی ټوپونه ووهي، سپی يې وغاپي، پيشو يې منډې ووهي، ماشومان د هغو حيواناتو کيسې خوښوي چي دوی يې هره ورځويني، دوی کله ناکله رابطه ورسره ټينګولای شي خو نيوی نهٔ ورکوي". (7)

همدغسې کيسې چي د ماشومانو په کښې دلچسپي وي او له کردارونو سره بلد وي، ماشومان دې ته هڅوي چي په هغو کښې تخليقي صلاحيت را ژوندی شي، کله کله داسې وشي چي ماشومانو ته نثري کيسې کوې دوی له هغهٔ څخه منظوم ادبيات تخليق کړي او کله کله منظومې کيسې ورته اوروې دوی له هغهٔ څخه منثورې کيسې تخليق کړي، دا ټول کردار په اصل کښې د نکل يا کيسې کوونکي وي، د بېلګې په ډول دا نمونه وګورئ:

"زۀ مي وخت ناوخته ماشومانو ته کیسې کوم، دا څو وخته مي ورته پام شوی چې دوی راڅخه د یو څو کیسو غوښتنه ډېره کوي په هغو کښې یوه هم د یوې پیشو کیسه ده چې باران وهلې بیا دوی ور ورخلاصوي په یو تهوکر یې وچوي، پیشو وږې وي، دوی په ګډه ځي او کټغ ورته برابروي، پیشو شوروا چړپوي او زۀ دا ورته تمثیلوم چې پیشو څنګه خوب وړي او څنګه خریږي وروسته دوی سندره ورته وایي:

پیشو، پیشو لنده شوه
زموږه مېلمنه شوه
پسته مسته لکۍ لري
دوه سترګې نیلۍ لري
مه راځه تو تو له غرو
خوب وړي لالۍ پیشو".(8)

د ماشومانو د له خوښې سره سمې کیسې موږ هم دغو پورتنیو کیسو ته وایو چې ماشومانو مشغول او مصروف وساتي او د تخلیق کولو صلاحیت په کښې پیدا کړي. دغسې ادبیات د سهېلي پښتونخوا ابو الخیر ځلاند هم د ماشومانو دپاره شائع کړي دي چې د پښتو د اولسي ادب مشهور صنف متلونه یې راوړي دي او د متلونو په پس منظر کښې ځینې داسې کیسې شته چې هغه ماشومانو ته ډېر خوند ورکوي.

په ډېره پخوا زمانه کښې یو ساده سړی یوه شپه پر خرۀ سپور یوې خوا ته روان ۇ چې په لارې ډېر زورور باران راګیر کړ، دی خو خیر په یوه غاره ننووت، البته خر د غارې په مخ کښې په یوۀ ماندۀ کښې ورته ولاړ ۇ، چې لږ ساعت وروسته ناګمانه له پاسه سېلاب راغلی او د دۀ مردار هډی یې یووړی، د سړي طبعیت ډېر خراپ شو، هغه ځکه چې پر همدغه یوه بوده د ټول کور ګزران کاوۀ. دی په هم هغه غاره کښې ناست پر خپل ناسې قسمت یې ژړل چې باران نور زورور شو او ورسره تنا او برېښنا هم ملۀ شول، دا راز چې به څۀ وخت په اسمان کښې پېلبو شوه نو به دی په څوده کښې غلی شو اخیر چې د برېښنا سلسله اوږده شوه او دی په هغه غاره کښې په پتېدو او غلي کېدو ستړی شو نو و خدای پاك ته داسې مخاطب شو:

"د دۀ بېچاره دا خیال ۇ چې هرکله په اسمان کښې د برېښنا په وجه لمبه پورته شي نو دا لکه چې خدای پاك په دې نیت اور تك وهي چې د هغۀ په رڼا کښې ما لټوي، خر چې دباندې ولاړ ۇ او ورښکاره کېدی هم هغه خو یې په سېلاب راڅخه یووړ اوس غواړي چې د برېښنا په رڼا کښې ما هم موندۀ کړي او دا ډول مي په سېلاب یوسي له دې متل څخه دا څرګندیږي چې دا له خورا قدیمې زمانې سره اړه لري یعني له هغې زمانې سره یې اړه ده

چي څۀ وخت لا باکس یا اورلګیت نۀ ؤ ایجاد شوي او خلګو به اور په اورټك (چقماق) او بکرۍ بلوئ". (9)

د ځلاند صاحب کیسې په دې هم د ماشومانو دپاره ډېره ګټورې دي چي یوازې کیسې نۀ بلکې ماشومان متلونه هم ورسره زده کوي او متلونه هم دواړه ډولونه شته، منثور او منظوم دواړه ډولونه د بېلګې په ډول دلته د څو منظومو متلونو نمونې وګورئ. ستا کور يې کدنی، کوم دي هل کوم دي غویی، سخترې یو تر بل بترې، سل دي ومرۀ یو دي مۀ مرۀ، سل سره دي ومره، د سلو سر دي مه مرۀ، سل سمنه شینده له کم عقله ځان ساته، سلېمانه په سلېمان نۀ درجوړيږي په سبحان دي درجوړه شي، سپر څټمه پاؤ ګټمه، بي بي اوسم که درځمه، قلمونه ازلي شي، مور او پلار به په رازي شي دغسې ډېر متلونه شته چي هغه په منظوم شکل کښې دي او ماشومان يې په ډېر اسان ډول یادولای شي.

د ماشومانو د ادبیاتو په برخه کښې په سهېلي پښتونخوا کښې عبد القدوس دراني هم ډېره توجه ورکړې ده، یوه روغه ډرامه يې د اناګو په نامۀ چاپ کړې ده چي ماشومانو ډېر خوند په اخستلای شي، دغسې یو بل کتاب کیسې او کیسۍ هم د عبد القدوس دراني خوندور کتاب دی، د دې کتاب په اړه پروفېسر سید عابد شاه عابد لیکي:

"دراني صاحب په هر ډول د دغه ډول تحریر خوند رنګ برقراره ساتلو هڅې کړې دي، شاید چي په دغه ترڅه کښې چي کوم نومونه اخستل کېدای شي، په هغو کښې دراني صاحب له ورایه څرګند ښکاري، خدای دي وکړي چي د دۀ دغه انداز، دغه لیکونه و خپلو ویونکو ته د خندا، مسکا او خوشحالۍ یو څو داسې ساعتونه ورکړي چي د ژوند له خوند سره اشنا وي، ولې چي د نن په دغه ابتلا کښې موږ ټول ګرفتاره یو او د خندا، مسکا او خوشحالي څخه ورځ په ورځ محرومه کیږو".(10)

د عبد القدوس دراني په دغه کتاب کښې منظومې او منثورې کیسۍ هم شاملې دي چي د هغو پر خپل ځای اهمیت دی او د ماشومانو د ادب سره ژور تعلق لري، دلته د څو منثورو کیسیو نمونې وړاندې کوم او ورسره نثري کیسې هم شاملې دي له هغو هم یوه کیسه وړاندې کوم:

"زما د پلار یو پټکی دي چي څومره يې پراخیې هغومره اوږدیږي؟

ځواب: لار.

زما یو شی دی، کشمشی دی، سهار ولاړ شي ماښام راشي، يه ګوته ځای نیسي؟ ځواب: د لاس لکړه.

ځنګل دی، په ځنګل کښې یو غل دی، ونیوئ ګوتو زو، مړ کړ نو کوزو؟ ځواب: سپږه.

نهٔ ګرځي، نهٔ خوراك کوي، بني آدم ورته ويلای شي، نهٔ د تګ، نهٔ د شور وي؟. ځواب: فوټو، د انسان عکس".(11)

دغسې يوه نثري کيسه وګورئ:

"ما هم نهٔ ده ليدلې: يو سړي د چا څخه په حيرانتيا او تعجب سره د بل سړي څخه پوښتنه وکړه چي: تا يو من هيندوانهٔ ليدلې ده؟ هغهٔ ورته په ځواب کښې وويل چي: يه!، دومره لويه هندوانه ما نهٔ ده ليدلې، نو دهٔ ورته وويل چي: ما هم والله که ليدلې وي.

دا روژه ولې خورې؟: يوهٔ سړي په روژه کښې زردالو خوړل، نو بل چا ځينې وپوښتل چي دا روژه څله خورې؟ هغهٔ ورته وويل چي: زهٔ؟، روژه کومه ده چي خورم يې، زهٔ خو زردالو خورم، دهٔ ورته وويل چي: زردالو په روژه کښې ولې خورې؟ هغهٔ ورته وويل چي: سړيه! په روژه کښې يې کله خورم، زهٔ خو په غاب کښې خورم".(12)

دغسې په سهېلي پښتونخوا کښې د ماشومانو دپاره له نثري کيسو څخه د بارکوال ليکلې کيسې هم د ماشومانو د اصلاح او نصيحت يوه اهمه نمونه ده او دا کيسې ځکه ښې دي چي د متن په اعتبار درميانه کيسې دي نهٔ ډېرې اوږدې دي او نهٔ ډېرې وړې دي. دا نمونه يې وګورئ:

" دوه وروڼه: دوه وروڼه وو چي ښوونځي ته به تلل پلار به يې په کور کې يوه يوه روپۍ ورکوله، کوچنی په دې روږد شوی ؤ چي کله به يې وخوړه او کله به يې په ښوونځي کښې له غريبو هلکانو سره د مرستې لپاره په جوړ شوي سندوخ کښې واچوله، خو لوی بيا داسې خوی اخيستی ؤ چي په ښوونځي کښې به د تفريح وخت شو نو هغهٔ به په ښوونځي کښې د ماخيو (خوږو) دوکان ته ورغی، په دوکان کې به يې رنګارنګ خوږو ته زړهٔ وشو خو له دهٔ سره به تش يوه روپۍ وه، کله به يې ټانګرۍ واخيستې، کله ريبړۍ، کله نخود او کله بل شی، شل ورځې مياشت يې همداسې ګوزاره وکړه، خو د ورځې به يې په يوهٔ شي ګوازه نهٔ کېده، وروسته يې له دوکاندار څخه د يوې روپۍ شيان په پور هم اخيستل، په لږ ورځو کښې هغه د دوکاندار لس روپۍ پوروړی شو، يوه ورځ چي دوکاندار خپلې پيسې ورڅخه وغوښتې نو هغه وارخطا شو چي اوس به پيسې له کومه کوي، ځکه مور و پلار خو به ورته يواځې د ورځې يوه روپۍ ورکوله او پلار يې چي غريب سړی ؤ او ګټه وټه يې لږ وه نهٔ يواځې زوی ته نورې پيسې نهٔ شوای ورکولای بلکې که يې په پور اخيستلو خبر شوی وای زوی به يې ښهٔ وهلی ترټلی وای، اخير يوه ورځ دوکاندار له هلك څخه د کتابونو بسته واخيسته او ورته ويې ويل چي تر څو پورې پيسې را نهٔ وړې، نهٔ يې درکوم، ځکه نو هغه په دا بله ورځ ښوونځي ته هم نهٔ لاړ، کوچنی ورور چي له دې کيسې خبر شو، لومړی خو يې مشر ورور پوه کړ او بيا يې دوکاندار ته زارۍ وکړې چي د ورور د کتابونو بسته يې ورکړي، دوکاندار ته

يې وويل چي له ننه وروسته به زۀ يوه يوه روپۍ درکوم او پور به دي پرې کړم، دوکاندار يې هم ورور ته بسته ورکړه، کوچني ورور به له هغې ورځې وروسته نيمه خپله او نيمه روپۍ له مشر ورور واخيستله او دوکاندار ته به يې ورکړه، په همدې توګه يې په پينځو ورځو کې د دوکاندار پور پرې کړ، له همدې سره يې مشر ورور هم د پيسو په سپمولو روږدی شو او له هغې ورځې وروسته يې بيا هيڅکله هم پور وا نۀ خيست".(13)

دا هم د سهېلي پښتونخوا د ماشومانو د ادب وروستی کتاب دی چي ستاسو مخې ته يې نمونې وړاندې شوې، د دغه کتاب کيسې څکه خوندورې دي چي يو خو درميانه دي او دويمه خبره دا ده چي په دغه کتاب کښې د کيسو کردارونه اکثرا داسې حيوانان دي چي د ماشومانو ورسره جوړه ده، لکه سپی، پيشي، توتي او داسې نور. او بله خوبي يې دا ده چي ماشومانو ته يې داسې کيسې ليکلې چي هغه د دوی له روزمره ژوند سره تعلق درلودلی دی، لکه په پورتنۍ کيسه کښې چي دوه ورونه په ښوونځي کښې وي او پلار هر يوۀ ته يوه يوه روپۍ ورکوي، يو يې څنګه خرڅوي او بل يې په روپۍ څۀ کوي، دغه داسې کيسه ده چي ماشومان خپل ښوونځيان په کښېويني او ممکنه ده چي داسې کيسې به د اوسنيو ماشومانو د سترګو ليدلی حال هم وي.

# حوالې


(1) حقمل، محمد حامد، ماشوم او کتاب، د ختیځ خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه جلال اباد، 1397هـ، مخ ۴۹

(2) حازم، محمد حسېن، د کوچنیانو پالنه، مشموله پالنه مجله، دوه میاشتنۍ، صحاف نشراتي مؤسسه کوټه، مخ ۱۱۲

(3)لمبه، عین الدین، (چلونکی) کوچنیان او لمبه، دوه میاشتنۍ مجله، دوېم کال دوېمه ګڼه، پښتو ادبي غورځنګ کوټه، جون، جولائي 2004ء، مخ45)

(4)کاکړ، سیال، د کوشنیانو ادب، بولان بك کارپورېشن کوټه، 1979ء، مخ ۳۰

(5) https; //www.kumon. co.uk

(6) کاکړ، سیال، د کوشنیانو ژبه، بولان بك کارپورېشن کوټه، 1979ء، مخ49، 50

(7) نیازی، ومان، د ماشومانو دپاره کیسه او نقاشي، مشموله مصور درې میاشتنۍ مجله، مصور خپرندوی بنسټ کابل، لومړۍ ګڼه، 1387هـ، مخ53

(8) نیازی، ومان، د ماشومانو دپاره کیسه او نقاشي، مشموله مصور درې میاشتنۍ مجله، مصور خپرندوی بنسټ کابل، لومړۍ ګڼه، 1387هـ، مخ54

(9) ځلاند، ابو الخیر، د متلونو قیصې، (دویم ټوك) پښتو اکېډمۍ کوټه، 2005ء، مخ42

(10)عابد، عابد شاه، سید، یو تعارف، مشموله کیسې او کیسۍ، پښتو اکېډمۍ کوټه، 2009ء، مخ14

(11) درانی، عبد القدوس، کیسې او کیسۍ، پښتو اکېډمۍ کوټه، 2009ء، مخ143

(12) درانی، عبد القدوس، کیسې او کیسۍ، پښتو اکېډمۍ کوټه، 2009ء، مخ79)

(13) میاخېل، بارکوال، مغرور مېړی، مقدمه، مصور خپرندوی بنسټ کابل، 2010ء،مخ 43